مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۲/۱۲/۱۳

د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال

څلورم ټوک، مزار شریف
او د افغانستان شمال - مرکزي برخې

یوسلواته اویایمه برخه
تصحیحات:
ډاکټر لوډویک ډبلیو آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1979

لارینج: لورینج: لرینج: ۲۵ - ۳۵، ۳۴ – ۶۷: دا یو کوتل دی چې د کهمرد له درې څخه په دو آب کې تر خورکِ بالا پورې لاره ورڅخه تیریږي. دا کوتل نـهٔ دی پلټل سوی خو ویل سوي چې دا ډیر لوړ، ستوغ او ډیر سخت کوتل دی او ورغلې لاره ډیره بده ده خو له دې سره سره بیا هم د باروړونکو کچرو او یابوګانو د تګ لپاره عملي لاره ده. د لورینج[1] په تنګي کې کرهنه سوې خو استوګن وګړي په کې نـهٔ سته، د لورینج تنګی د کهمرد پر درې له شمال لوري له سرپل تقریباً ۴ مایله پورته د هاجر میشي د تنګي درې له لارې ورننوځي. له تنګي څخه لاره د تنګي او د کوتل له سره د خورک بالا تر سر پورې تللې چې ښایي تر بانـــک پورې ۱۸ یا ۲۰ مایله لاره وي. ښایي له دې لارې د پلي ځواک یو قطار له دوآب څخه د قره کوتل او نای جوشک پر لارو تللی وي. (اي. بي. سي.)
لوچک: ـ ۳۷ ، ـ ۶۶ : پیکاک وایي چې دا کلی د آقچې په ولسوالۍ کې د چیلیک په سویل ختیځ کې واقع دی او د ارسري تورکمنانو ۲۵ کورنۍ په کې ژوند کوي. (پیکاک)
(پُلِ) لوی ناب: ۵۱ – ۳۶، ۱۲ – ۶۵ : دا له خښتو جوړ یو لیندۍ یا یو قوسه پل دی چې د آبِ گرزیوان لاره ورڅخه تیریږي، او له بلچراغ څخه ۴/۱ ۲ مایله کښته واقع دی. (اي. بي. سي.) *اوسنۍ نقشې دا نوم د پل خشتي په ډول ښیي.*
* **لقمان:** لکمان: ۵۹ – ۳۵، ۵۸ – ۶۴ (ن): دا د شوبختو د ختیځ په تقریباً ۵ مایلۍ او د میمني په شمال ختیځ کې یو کوچنی کلی دی.
لونک: ـ ۳۵، ـ ۶۵: دا په سیغانو کې یو کلی دی چې د تاجیکانو ۱۵ کورونه په کې وداني دي. (میتلند)
مدار: ۲۴ – ۳۵، ۴۸ – ۶۷ (ن): لوړوالی: ۸۲۱۵ فیټه. دا د کهمرد په ولسوالۍ کې یو کلی دی چې د قره کوتل د سویل په ۷ مایلۍ کې واقع او د تاجیکانو ۱۵ کورونه په کې وداني دي. همدا شان د دې کلي په چم ګاونډ کې د کمپ لپاره ښـهٔ ځای سته او ځمکه ټوله په سر ځوړي ځای کې ده. (میتلند)
ماد خواجه: محمد خواجه: ـ ۳۵، ـ ۶۴ : دا د میمني د قیصار په علاقه دارۍ کې یو کلی دی چې د وزبیکانو ۳۰ کورنۍ په کې ژوند کوي. (میتلند)

[1] - Lorinj

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

* **مَغ**: ماغ: ۲۳ – ۳۵، ۱۵ – ۶۵ (ن): دا د مرغاب – رودِ د یوې ځانګې پر غاړې د هشتمین په ختیځ - سویل ختیځ او د بلچراغ سویل کې یو کلی دی.
مَغـُسرو: ـ ۳۵، ـ ۶۶: دا د تونج په ولسوالی کې یو کلی دی چې رودِ بندِ امیر ته نیږدې واقع او د «بایه هزاره ګانو» ۶۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (میتلند)
ماغیار: ۵۵ – ۳۵، ۵۰ – ۶۶ (ن): دا د بلخ رودِ پر غاړه د تونج د شمال لویدیځ په تقریباً ۵ مایلی کې یو کلی دی.
مَغزار: مَغیار: ۲۷ – ۳۵، ۵۷ – ۶۶ (ن): لوړوالی: ۹۸۱۱ فیټه. دا د دوب آب په ولسوالی کې یو کوتل دی چې په کهمرد کې له دشت سفید څخه د تاشقرغان د سیند د اوبو د سر د سرخ قلعې تر درې پورې لاره ورڅخه تیریږي. دا لار د قره کوتل لپاره یوه مهمه متبادله لاره ده چې له سره ئـې د کابل – بامیان – مزارشریف عمومي سړک تیریږي چې ډیره اوږده نـۀ ده او ښایي چې تر عمومي سړک نسبتاً ښه لاره هم وي.
دا لاره له دشتِ سفید څخه تقریباً ۲/۱ ۱۰ مایله لیرې ده چې له مغزار څخه تیریږي. ویل سوي چې کوتل ته ورختل آسانه دي خو د کښته کیدلو لاره په سختۍ سره د اوښانو لپاره عملي ده او دا لاره له ډیر کار پرته سمه لاره نـۀ سي جوړیدای سي. (کوتل ته د ختلو په لمن کې یوه پَل لاره د کریمک درې له لارې د سرخاب درې ته تللې ده.) دا لاره پنځه نیم مایله وړاندې شمال لور ته د نای جوشک له کوتله تیریږي. دا لاره د یوۀ بومي افسر له پلوه پلټل سوې ده چې ښایي معلومات ئـې سم نـۀ وي. وګورئ: د لارو لارښود کتاب (اې. بي. سي.)
مگزوم: ـ ۳۶، ـ ۶۶ : دا د بند امیر په څلورو نهرونو کې یو نهر دی چې د آقچې د ښار ګوتې همواره دښته خړوبوي. وګورئ: "هژده نهر"
میدان: ۵۴ – ۳۶، ۵۵ – ۶۶: ویل سوي چې دا د مزار شریف د شمال لویدیځ په ۲۰ مایلی کې یو کلی دی چې له قرشی یک څخه له ۱۳ تر ۲/۱ ۱۳ مایلو پورې واټن لري. زموږ په باور چې په میدان کې د نهر عبدالله له سره لاره تیریږي، میدان کې د وزبیکانو ۶۰ کورونه دي. (اې. بي. سي.) *اوسنۍ نقشې د نو وارد میدان نوم ښیي.*
میدان: ۳۴ – ۳۵، ۵۶ – ۶۴ (ج): دا یو کوتل دی چې له چمنِ بید څخه د بندر له لارې تر میمنې پورې لاره ورڅخه تیریږي. د دې کوتل په هکله کومه شرحه زموږ په لاس کې نـۀ سته خو ویل سوي چې لاره ئـې ښه ده. (اې. بي. سي)
* **میدانک**: ۳۳ – ۳۵، ۱۱- ۶۴ (ن): دا د قیصار د سویل لویدیځ په غرونو کې او د بندِ تورکستان په شمال کې یو کوچنی کلی دی.
میدانک: ۱۵ – ۳۵، ۳۷ – ۶۷ : لوړوالی: تقریباً ۸۶۳۵ فیټه. دا د دشت ګزک پر سر یو کوتل دی چې د سیغان له درې څخه تر کُهمرد پورې لاره ورڅخه تیریږي. کوتل ته ورختل د هچ درې له لارې له سویل لورې کیږي، هچ دره هغه دره ده چې له سرایک ۶ مایله پورته او ګمل قلعې څخه یو مایل پورته په اساسي درې کې ډوبیږي. دا د اوښ د تګ لپاره ډیره ښه لاره ده خو لاره پاکولو ته اړتیا لري.
له ګمل قلعه تقریباً ۷ مایله پورته چشمـۀ مرغان راځي. دا تنګی ډیر تنګ نـۀ دی خو په دواړو اړخونو کې ئـې ګړنګونه رالویدلي او لوی انبارونه ئـې جوړ کړي دي له دې کبله په ځینو کې ځایونو کې د تخته سنګو او لویو لویو کانو پاکولو ته اړتیا ده چې عرابه لرونکي وسایط وربانديِ تیر سي. د مایل د ربعې په تقریبي واټن سره ښې لاس ته ګړنګونه شا ته ځي او تیټیږي خو ځای ئـې د خاورین مهمیز یوه کتله او یو خاورین کنډو نیسي او تر هغو مسلط پاتې کیږي چې بیخ ئـې د کین لاس له ګړنګ سره یو ځای سي. دلته د خاورو له منځه چشمه مرغان راوتلې ده خو ډیرې لږ اوبـۀ لري.
لار د V په ډول تنګې لارې څخه ځي چې کین لاس ته ئـې ګړنګ او ښي لاس ته ئـې خاورینې سرځوړې ډډې دي او د دواړو په منځ کې لاره تیره سوې ده. دا لاره د خاورینې ډډې پر بیخ ورغلې ده چې کین لور ته ئـې د اوبو د راټولو یوه ناله ده. له همدې ځایه ګړنګ د څو سوو فیټو په لوړوالي پورته ځي. لاره د بارورونکو څارویو لپاره ښه ده خو د توپونو د لیږد لپاره پراخولو ته اړتیا لري چې ښایي په آسانۍ سره تر سره سي. ښي لاس ته د مهمیزو له ډډې یوه بله لاره هم تللې ده. دا لاره په ثابت ډول لوړیږي او له ۴۰۰ یاردو وروسته د منځګړي یوې پراخې او لوړې برخې ته ورځي. تنګي ته د ننوتلو له ځایه د ختلو لوړوالی ۳۸۰ فیټه دی چې د مایل د ثلث په اندازې اوږده لاره ده.
په ۴/۱ ۸ مایل کې منځګړی د ۱۵۰ یاردو په ارتوالی مخ خلاصی کیږي ځکه چې ښي لاس ته غرونه شا ته ځي. دلته نو لاره ډیره ښه کیږي خو د مایل د ربعې له واټنِ وروسته لاره یو ځل بیا د ښي لاس پر غرونو ورخیږي. د هچ درې له خولې څخه لوړوالی ۱۲۴۰ فیټه دی.
دا لاره په لومړیو کې په ستوغ مارپیچ ډول پورته ځي. بیا د غرۀ په ډډې کې د پام وړ ستوغوالي په موندلو سره لوړیږي، تنګه کیږي او مخ په بدیدو کیږي. د لارې په وروستۍ برخې کې لاره یو ځل بیا مارپیچه کیږي خو لاره په

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کافي اندازې سره ښه ده. تر سره پورې لاره يوه مايل (۲/۱ ۹ مايله) ده. له بيخه تر سره پورې لوړوالی ۶۵۵ فيټه دی او د درې له بيخ څخه ۱۹۰۰ فيټه. دا د دې لارې لوړ ترينه برخه ده.
لاره ډير ژر په کښته کيدلو پيلوي؛ لاندې تنګه اوږده دره د يوۀ کوچني ميدانک په بستر لويه کيږي چې په منځ کې ئې اوبـۀ او وابښـۀ شنـۀ سوي دي. ميدانک کيڼ لور ته کيږي او يو ځل بيا په تنګې اوږدې درې بدليږي او داسې ښکاري چې لويديځ لور ته په څو مايلو کې د غرۀ تر ډبرينې لړۍ لاندې له يوې بلې تنګې درې سره مماس مومي.
کښته کيدل ډيره آسانه دي او لاره ټوله د ميدانک د (۹۶۳۵ فيټو لوړ) کوتل پورې ښه ده؛ دا کوتل په ۲/۱ ۱۰ مايل کې راڅرګنديږي. يو اوب يللونکی يا آب پخشان دی چې د ميدان بستر تړي (د اوبو د ټوليدلو حوضه چې له لويديځ لورې له ليرې لارې راځي.) له اوب يللونکي څخه د کمهرد پر خوا د اوبو حوضه د همدې درې پر لور ځي. لاره له کوتل څخه د يوۀ غرۀ د اوږې له سره تيريږي او په دې توګه خپله مخه د ميدانک له بستر څخه کښته له يوې تنګې درې څخه بچ کوي. خو تنګه اوږده دره په خپله د يوې لارې طبيعي کرښه ده او که يو ځل څوک ورباندې لاړل يقين لرم چې دا لاره هم تعقيب کيږي. شک نـۀ سته چې د دې لارې د جوړولو لپاره سورنګ ته اړتيا سته؛ خو دا تنګه اوږده دره ډيره لنډه ده او ښايي راښوييدلې برخې ئې يوازينۍ موانع وي.
د کوتل له پاسنۍ برخې څخه تر ميدانک پورې سقوط ۲۹۰ فيټه دی.
ښي لاس ته کښته کيدلد اود ناري تر بسترپورې لاره ډيره شيوه يا سرځوړې او مارپيچه ده؛ ناري د «هفتاده داران[2]» د تنګې سر دی. د مايل د ثلث له واټن وروسته د کښته کيدلو لاره نوره ټوله شيوه نـۀ ده خو په ډيريو ځايونو کې سخته ده. دا لاره همداسې د مايل تر ثلث پورې په همدې ډول پاتې کيږي او په دې پسې د مايل ۴/۳ په واټن د کښته کيدلو وروستۍ برخه راځي چې آسانه ده خو بايد وويل سي چې دې برخې کې لاره په وړوکو ډبرو او جغلو تر پايه ډکه ده.
د کښته کيدلو ټوله لاره ۲/۱ ۲ مايله ده (۱۸ مايله) او نيمايي ئـې د حقيقي کوتل د ۱۴۸۵ په لوړوالي ده. (ميتلند) اوسنۍ نقشې په دې نامـۀ کلی په ۳۸ – ۳۵، ۳ – ۶۷ (ن) کې ښيي.
ميمنه: ۵۵ – ۳۵، ۴۷ – ۶۴ (الف): *يو وخت دا يوه نيمه مستقله حکومتي وه چې وروسته په کوچني ولايت (حکومت اعلی) بدل او په پای کې د **فارياب** د ولايت په نامـۀ ونومول سو. د دې ولايت لويديځه منتهی اليه يو وخت د افغان تورکستان په نامـۀ ياديله. دا ولايت ۲۱۳۰۶ کيلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچينو د دې ولايت د وګړو شمير له ۲۰۲۳۲۲ څخه تر ۲۱۴۲۶۵ تنو پورې د ميمنې د ښارګوټي او ولسوالي د وګړو له شمير په استثناء اټکل کړی دی. د دې سيمې په هکله د نورو معلوماتو لپاره وګورئ: فارياب. دا سيمه په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډو شرحه سوې د:* د جګړن ميتلند راپور: ۱۸۸۸ز کال: -
ميمنه چې يو مهال نيمه مستقله حکومتي وه، (په ۱۸۹۲ز کال کې د وزبيکانو له بغاوت وروسته خپل نيمه مستقل حالت چې پخوا ئـې درلود له لاسه ورکړ)، د افغان تورکستان د ولايت سويل لويديځه برخه جوړوي او د سرپل او د مرغاب تر منځ واقع ده، چې د سرپل ولسوالۍ ئـې ختيځ کې او مرغاب چې په هرات پورې اړه لري د ميمنې په لويديځ کې واقع ده. ميمنه په لاندنيو علاقه داريو ويشل سوې ده:-

۱	ميمنه او د ميمنې کوزنۍ او برنۍ درې او د ميمنې ښارګوټی
۲	ناموسا او لنګر: د ميمنې شمال لويديځ کې
۳	المار د ميمنې لويديځ کې
۴	قرای د المار سويل کې
۵	قيصار: د المار او قرای لويديځ کې
۶	چيچکتو: د قيصار شمال کې
۷	شيرين تګاو: د ميمنې شمال کې
۸	خير آباد: د شيرين تګاو شمال کې

ميمنې پخوا پراخه سيمه احتوا کوله. پخوا په ميمنې کې له ختيځ لوري بلچراغ او ښايي قرچي او درزآب هم راتلل. په سويل ختيځ کې هم ګرزيوان اسماً په ميمنې پورې اړه درلوده خو ويل سوي چې هيڅکله ئـې ماليه نـۀ ورکوله او واقعاً مستقله سيمه وه. دغه ځايونه اوس د افغان سرپل ولسوالي جوړوي.
د فيروزکوهيانو کوچنۍ سيمه «بندر» چې د بندِ تورکستان په سويل کې ده په ميمنې پورې اړه لري.

[2]- Haftadadaran

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د میمني یوه مهمه برخه له یوۀ چول سره نښتي ده چې په ژمي او پسرلي کې د دې سیمې د څارویو لپاره ستره پوونده ده.
په دې خبره باید پوه سو چې تقریباً د ټولو علاقه داریو یا د اداري واحدونو په ویش کې د لیست د نومونو په پرتلې ډېر کلي دي خو له لیست څخه د کلیو د نومونو غورځیدل د یو شمیر مالیاتي موخو لپاره دي او دا کلي په نورو کلیو پورې اړوند بلل سوي او په هماغو کلیو کې مدغم شمیرل سوي دي. کلي معمولاً دوه نومونه لري او په ځینو حالاتو کې حتی د ډېرو مشهورو کلیو نومونه نـۀ دي ورکړل سوي.
د میمني ولسوالي له دغو برخو جوړه سوې ده: (۱): هغه اوږد تنګی چې له سویل لوري راځي او د دښتې له سویل ختیځ پای د میمنې پر دښتې ننوځي. د دې تنګي پورتنۍ برخه «تیلان» ده: او کوزنۍ پرله پسې برخې ئـې د «آغه دره»، « دره سل» او «دهانِ دره» په نومونو یادیږي. (۲): د میمنې ښار ګوتې. (۳): له ښارګوټي کښته د دري کوزنۍ برخه چې د تګاو ناموسا په نامـۀ یادیږي. (۴): د میمنې او آغه درې په لویدیځ کې یو شمیر لیرې پرتې سیمې.
(د میمنې د ولسوالۍ لوړوالی په تیلان کې او تر بند تورکستان لاندې له ۶۶۹۰ فیټو څخه تر ۱۲۰۰ فیټو په خیرآباد کې دی چې په کوزنې شیرین تګاوه کې واقع دی. میمنه په خپله ۲۳۶۰ فیټه لوړه ده؛ المار ۲۷۸۰ فیټه؛ او د قیصار دښته له ۴۰۰۰فیټو لوړه ده.)

۱: میمنه		
د تیلان تنګی: د کلیو نومونه له پورته تر کښته پورې لیکل سوي دي		
کلي	**قومونه**	**د کورنیو شمیر**
تیلان	شاه کاماني وزبیکان	۶۰
حوضِ امیر بای	شاه کاماني وزبیکان	۱۲۰
سنګِ زرد	شاه کاماني وزبیکان	۱۵
آق دره	شاه کاماني وزبیکان	۴۰
دِۀ پیر خشت	خواجګان او ایماقان*	۶۰
آق چشمه	شاه کاماني وزبیکان	۲۰
بیک موخلي	سنغ علي وزبیکان	۸۰
چهارتوت	سنغ علي وزبیکان	۲۰
دهانِ دره	وزبیکان او عربان	۳۰
خشتِ ګیرمه	اله که وزبیکان	۴۰
شاه فولاد	شاه کاماني وزبیکان	۴۰
اون چیلاد	بلوڅ	۷۰
ګرزیواني	ګرزیواني وزبیکان	۶۰
جم شیري	جم شیري وزبیکان	۳۰
قوتر ګوماى	قوتري وزبیکان	۵۵
توغه چي	توغه چي وزبیکان	۳۰
	ټولټال	۷۷۰
* فیروزکوهیان		

د آق درې مینګ باشي «نفس» نومیږي (چې شاه کاماني وزبیک دی)، او د دهانِ دره مینګ باشي «یحیی خان» نومیږي چې په قوم عرب دی؛ دوی د پورته یادو سویو سیمو مشران دي.
میمنه د استوګنو وګړو ۴۰۰۰ کورونه لري چې خلک ئـې تقریباً ټول وزبیکان دي. دغه خبره سردار محمد اسلم خان تصدیق کړه خو میمنه متروک او د نړیدلو په حال کې ظاهر لري او د هیڅ چا به ګومان رانـۀ سي چې داسې ځای دې دومره وګړي ولري. (دفعه دار امیر خان او د فعه دار شهزاده تیموس په خپل راپور کې وایي چې میمنه ۲۰۰۰ کورونه لري.) د میمنې بازار ۱۵۰ هټۍ لري او ۱۵ ئـې د هندوانو او ۲۵ ئـې د موسویانو (یهودانو) دي. (خو مِرک وایي چې ۲۳۵ هټې دي.)
د میمنې بالاحصار یوه استحکامي کلا ده چې نسبتاً مسلط ظاهر لري او د والي حسین خان د استوګنې ځای دی. نومورې ډېر لږ ځواک لري چې د یوۀ افغان مقیم (اولیا خان) تر لاس لاندې دی او د دۀ ملاتړ په ښارګوټي کې مستقر ګارنیزیون کوي.
په ۱۸۸۶ز کال کې ګارنیزیون له دغو ځواکونو جوړ وو:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۳ کنډکه هر کنډک ۶۰۰ تنه سرتیري	۱۸۰۰ تنه
د سپارۀ ځواک دوې رسالې	۲۰۰
۱ بطریه (۶ توپونه)	۱۰۰
د خاصه دارانو ۵ بیرقه	۵۰۰

ټولټال ۲۷۰۰ تنه کیدل خو کیدای سي یو شمیر خاصه داران نورو ځایونو کې په کار ګومارل سوي وي.
د ناموسا تګاو کلي (خو باید ووایو چې ناموسا علاقه داري نـۀ ده)

کلي	استوګن وګړي	د کورنیو شمیر
بي بي انا	سرتراش عربان	۳۰
تور پختي	سرخابي (هزاره ګان؟)	۳۰
موضي	موضي وزبیکان	۶۰
کاوش خیل	کاوش وزبیکان	۴۰
سربولاق	بازاري وزبیکان	۷۰
تکه دوزلي	بای مکلي	۳۰
بدقاق	سالورتورکمنان (د بیګي سرکار ځانګه)	۵۵
	ټولټال	۳۱۵

«بادک[3]» د ناموسا له دري ډیر کښته دی، له دې څخه کښته کلي د ناموسا په ویش پورې اړه لري خو د میمني د علاقه داری په ویش کې شمیرل سوی دی. دلته اوسیدونکي سالوریان د دې قوم یوازیني پاتې شوني دي چې په ټول افغانستان کې پاتې دي. دوی په «بدکاک[4]/ باد کاک/ باد قاق؟» کې استوګن دي (پیکاک ئـې «بت / بات کاک[5]» بولي)، کله چې د دې قوم یوه لویه برخه چیچکتو کې وه او بیا لویدیځ ته «زور آباد» ته چې د ذوالفقار مقابل لوري کې د فارس د هریرود برخه ده کډه سول نو دوی ورځخه پاتې سول او همدلته ئـې ژوند غوره کړ.
دغه سالوریان د تورکمنانو د دود پر بنسټ په خرګاه ګانو کې ژوند کوي خو، رمې نـۀ لري. (پیکاک)
لاندني ځایونه د میمني د لویدیځ لیرې پرتې سیمې او د هغې بَره دره ده (دره سل او آغا لره[6]): -

آق سای	وزبیکان او عربان	۵۰
اوماخي	سعدالله یې فیروزکوهیان	۳۰
میر شکار	وزبیکان او فیروزکوهیان	۲۰۰
	ټولټال	۲۸۰ کورنۍ

د آق سای او اوماخای له تګاوونو څخه له میمني څخه تر المار میر شکار پورې لاره ورځخه تیریږي چې پیکاک ئـې د «نور شکار» په ډول یادوي؛ داسې ښکاري چې موخه ئـې د دې سیمې ختیځ کې بَـرَنی آق سای او د کاریز تنګی دی او کلي ئـې له دې پرته په بل ډول نـۀ دي یاد سوي. زموږ د معلوماتو له مخې د پورتنیو سیمو ملکان یا مشران خپل عایداتي مالیات مستقیماً میمني ته ورکوي.
د اړتیا وړ توکي له میمني تر لاسه کیدای سي او ویل سوي چې یوازې د میمني له علاقه داری څخه د راټولیدونکو موادو شمیر د سرپل له شمیر سره برابر دی. یعنی تر ۴۰۰۰ مونډو پورې «آټا» یعنی اوړۀ؛ او ۴۵۰۰ مونډه وربشي.

نور بیا

۲ – ناموسا او لنګر...

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک او دریم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

[3] - Badak
[4] - Badkak
[5] - Batkak
[6] - Dara Sel and Agha Lara

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ